مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

محمدایاز نوري

۲۰۲۴/۱۱/۳۰

د پښتو څخه و دري ژبې ته

د غازي يارمحمد خان وزيري د کتاب ترجمه

(مترجم: محمد هلمند اخڑ)



لکه څنګه، چې د افغان جرمن د ويب سايټ لوستونکي په ياد لري، دوه کاله پخواء، زمونږ ګران فرهنګي افغان ځوان محمد هلمند آخڑ د غازي جرنيل يار محمد خان عليه الرحمه د زوی شاغلي فدا محمد نومير سره اړيکې ونيولې او د جرنيل صاحب د کتاب «د افغانستان د خپلواکئ او نجات تاريخ» د ترجمې وړانديز يې ورته وکړ. دا وړانديز قبول او څه موده پخوا، بيا هم د کتاب د ترجمې د بشپړتيا خبر د همدغه ويب سايټ له خوا خپور سو.هغه کسان، چې دنده يې ترجماني وي او يا يې کوم وخت خپله ژباړه کړي وي، درک کوي، چې د يوه قطور کتاب ترجمه له يوې ژبې څخه وبلې ته تر کومه حده ستونځمن او د دقت وړ کار ده. ارجمند هلمند آخڑ، دغه زيار پر ځان قبول او شپه او ورځ يې پر ځان يوه کړې او دا تاريخي او مهم کتاب يې هغو افغانانو ته، چې په پشتو ژبه مکمل درک ورته نلري، ډالئ کړ. ګران هېواد افغانستان ته زما د وروستي سفر په ترڅ کې، دا توفيق راته حاصل سو، چې افغان ليکوال او محقق محمد انور آخڑ او د هغه زوی محمد هلمند آخڑ سره له نژدې ووينم. يو څو ساعتونه ناسته او خبرې زما د دغه شرافتمند او وطن پال فاميل سره ماته يوه شکلي خاطره راپاتې سوله.

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارئ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

دري ژبې ته ترجمه شوی کتاب مجموعاً (۴۱۵) مخونه لري، چې له (۳۱۵) مخ نه نور ضمایم دي، بیا د جرنیل صاحب د مقبرې انځوراو یو بل عکس، چې وزیري صاحب کتاب په لاس د مطالعې په حال کې ناست ښودل سوی ده. په تعقیب د یو شمېر افغان محقیقینو لکه محمد اعظم سیستاني، حبیب الله رفیع، ببرې ګل (کل لالا)، رحمت ربي زیرکیار، سید عبدالله کاظم نظریات د کتاب اړوند درج سوي دي. ورپسې د محمد انور آخڑ په اهتمام د (۱۱) په شمېر تعلیقات درج سوي دي، چې د بچه سقو سره د مبارزې او افغانستان ته د نادر خان د راتګ او نورو مهمو انکشافاتو توضیح ورکوي. ورپسې د پاچا نادر خان دري فرمانونه د جرنیل په نوم، د غلام محی الدین مسید ملا پونده او د جرنیل صاحب د زوی فدا محمد نومیر عکسونه او کتاب د جرنیل یار محمد خان وزیر د کورنۍ د شجرې په درج سره ختم ته رسېږي. البته په دغه تاریخي کتاب کې د اعلیحضرت غازي امان الله خان یو صداقتمند، باتور او سرتېر عسکر جرنیل یار محمد خان دوو خورا مهمو پېښو لومړی د هغه او نورو اتلو یارانو وڼده د هېواد افغانستان د استقلال په حصول کې او بله موضوع د سقوي انګلیسي فتنې په محو کولو کې د خپلو وینو پر ورکولو د وزیرستان د قهرمان قام مستقیمه برخه اخیستل او د افغانستان د بادشاهي مقام سپارل، ببرته غازي امان الله خان ته او دلته د سپه سالار نادر خان تعهد او لاسلیک په قرآن مجید او بیا د نادر خان له خواء د هغه قول او قرار ترپېنو لاندې کول او ځان د افغانستان د بادشاه اعلانول، د یوه وطن پال افغان لپاره باید ډېر د اهمیت وړ حقایق وي. که مونږ افغانان موافق او مخالف د اماني لس کلن بهیر ته، چې اعلیحضرت امان الله خان یې اختیار لروونکئ ؤ، دقیق سو، که نادر خان مطابق د قول یې غازي امان الله ببرته هېواد ته را دعوت کړای وای او مشر غازي د ۱۳۳۹ل پورې، چې حیات ؤ، زمونږ د ګران افغانستان بادشاه پاته وای، آیا مونږ د افغان ملت به نن بیا هم داسې در په در او هېواد به مو په مادي او معنوي لحاظ وران راته پروت وای؟ چې نه!، بلکې مونږ به نن د نړۍ یو قوي او مطرح ملت او هېواد وای بناً کله، چې مونږ د سپه سالار نادر خان منافقت ته ګورو، حق لرو د هغه پر اسلامیت شک وکړو، ځکه پر قرآن کریم تعهد ایسته اچول دا د یوه راسخ مسلمان په شخصیت او شان کې قطعاً جای نلري.

په دې توګه زه ګران مترجم محمد هلمند آخڑ ته د دغه لوی ملي زیار او د دغه تاریخي خدمت په خاطر خپل د زړه له کومې تحسین او شاباس وایم.

یادونه: که د دغه شکلي ترتیب شوي کتاب په لومړۍ پښت کې د موجوده انځور په منځ کې د اعلیحضرت غازي امان الله خان (علیه الرحمه) او څنګ ته یې د هغه د اتل سپاهي یار محمد خان وزیر عکس هم چاپ شوي وای، د کتاب د محتوا مطابق به لا غوره منظر وای.

له ښي خوا: محمد انور اخڑ، محمد هلمند اخڑ او زه لیکونکی

پای

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ